**مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی**
**د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز**

# تحلیل هفته

**شماره: ۲۴۱** (از ۲۸ دلو الی ۵ حوت ۱۳۹٦ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ........ ۲

**د جګړې ستراتېژي او د امنیتي وضعیت راتلونکی**

د ملکي وګړو مرګ‌ژوبله ........ ۴

د ملکي تلفاتو عاملین ........ ۵

راتلونکی وضعیت ........ ٦

**وضعیت بی‌جاشده‌گان داخلی در افغانستان**

آواره‌گان و حقوق بشری آن‌ها ........ ۹

بی‌جاشده‌گان داخلی در افغانستان ........ ۹

راه‌کار حکومت در قبال بی‌جاشده‌گان داخلی ........ ۱۰

## مقدمه

تېر ۲۰۱۷ کال هم د تېرو کلونو په څېر د افغان حکومت او په ټوله کې د هېواد لپاره له ستونزو او ننګونو ډک کال و او په ځانګړې توګه په دغه کال کې د جګړې له کبله د ملکي تلفاتو کچه لوړه وه. د نړیوالو ارګانونو شمېرې ښيي، چې په ټولیز ډول د ملي یووالي حکومت له جوړېدو راوروسته د ولسي وګړو مرګ‌ژوبلې کچه لوړه شوې ده.

په اوسني وخت کې له یوې خوا د سولې بهیر له بن‌بست سره مخ دی او له بلې خوا د امریکا او افغان حکومت جګړه‌ییزې ستراتېژۍ هم د وضعیت د لا خرابېدو اندېښنې راټوکولې دي. دا چې په تېر کال کې د ملکي تلفاتو کچه څومره وه او د امریکا او افغان حکومت د جګړې ستراتېژي به دا وضعیت په کوم لوري بوځي، هغه موضوعات دي، چې د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د اوونیز تحلیل په لومړۍ برخه کې پرې شننه لولئ.

د تحلیل په دویمه برخه کې په هېواد کې د کورنیو بې‌ځایه شوو د وضعیت په اړه لولئ، چې د روانې جګړې او ناامنیو له کبله یې کچه ورځ تر بلې لوړېږي. افغانستان دا مهال د نړۍ دویم هېواد دی، چې ډېر کورني کډوال لري او وروستۍ شمېرې ښيي، چې یوازې په تېرو شپږو اوونیو کې ۱۷۰۰۰ تنه له خپلو کورنو بې‌ځایه شوي دي. افغان حکومت تراوسه د داخلي کډوالو او بې‌ځایه شوو د وضعیت د ښه‌والي لپاره کوم رغند پلان نه دی پلی کړی او له همدې کبله دغه کډوال لا هم په سخت وضعیت کې ژوند تېروي. دا چې په هېواد کې د بې‌ځایه شوو داخلي کډوالو وضعیت څه ډول دی او افغان حکومت یې په اړه څه ډول تګلاره لري، هغه پوښتنې دي، چې د تحلیل په دې برخه کې یې د ځوابولو هڅه شوې ده.

# د جګړې ستراتېژي او د امنيتي وضعيت راتلونکی



په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندوی دفتر (يوناما) د کلني راپور له مخې، تېر ۲۰۱۷ کال هم د افغانانو لپاره خونړی و او په دې کال کې هم تر ۱۰ زره زياتو ولسي وګړو ته د رواني جګړې له کبله مرګ‌ژوبله اوښتې ده. د روان ميلادي کال پيل، د تېر کال په پرتله لا ډېر خونړی و او د حکومت د وسله‌والو مخالفينو د درنو بريدونو او چاودنو ترڅنګ، د امريکايي او ناټو ځواکونو د هوايي بريدونو زياتوالي هم، د ولسي وګړو د مرګ‌ژوبلې کچه لوړه کړې ده.

دغه وضعيت داسې مهال دی، چې په افغانستان کې مېشت بهرني ځواکونه په دغه هېواد کې د امريکا د جګړه‌ييزې ستراتېژۍ له کبله، د جګړې ډګر ته ستنېږي او په ځانګړې توګه خپل هوايي بريدونه يې زيات کړي دي. اوسمهال له يوې خوا په افغانستان کې د بهرنيو ځواکونو شمېر يو ځل بيا زياتېږي او له بلې خوا د طالبانو او افغان حکومت ترمنځ د سولې د خبرو اترو د پيل شونتيا هم نه ليدل کېږي.

دا چې روانه جګړه ورځ تر بلې زور اخلي او له کبله يې د ملکي وګړو د مرګ‌ژوبلې کچه هم لوړه پاتې ده، پوښتنه دا ده، چې ايا د امريکا او افغان حکومت د جګړې ستراتېژي به په هېواد کې له امنيت او ثبات سره مرسته وکړي؟

## د ملکي وګړو مرګ‌ژوبله

د یوناما د شمېرو له مخې، له ۲۰۰۷ کال راوروسته چې یوناما پکې د ملکي وګړو د مرګ‌ژوبلې ثبتول پیل کړل، د ۲۰۱۷ کال تر پایه په مجموعي توګه ۸۴۲۴۶ ولسي وګړو ته د جګړې د ښکېلو لورو له‌خوا مرګ ژوبله اوښتې ده.

د یوناما او د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د ادارې د کلني راپور له مخې، چې څو ورځې وړاندې خپور شو، د جګړې د ښکېلو لورو له‌خوا ولسي وګړو ته د اوښتې مرګ‌ژوبلې کچه لا هم خورا لوړه ده. دغه راپور کاږي، چې د ۲۰۱۷ کال د جنورۍ له لومړۍ نېټې د ډسمبر تر پایه ۳۴۳۸ ولسي وګړي وژل شوي او ۷۰۱۵ نور ټپیان شوي. مجموعا ۱۰۴۵۳ ملکیانو ته په دغه کال کې مرګ ژوبله اوښتې ده.[1] سره له دې چې دا کچه د ولسي وګړو د مرګ‌ژوبلې دقیقه شمېره نه شي بلل کېدای؛ خو کومې پېښې او د مرګ‌ژوبلې شمېرې چې یوناما ثبت کړې دي، بیا هم پر افغانانو د یوه بل خونړي کال د تېرېدو ښودنه کوي.

په ټولیز ډول د ۲۰۱۵ او ۲۰۱٦ کلونو په پرتله، په ۲۰۱۷ کال کې د ولسي وګړو د مرګ‌ژوبلې کچه کمه اندازه راټیټه شوې؛ خو د ښځو او ماشومانو د مرګ‌ژوبلې کچه بیا په دغه کال کې لوړه ده. په ۲۰۱۷ کال کې ۳۵۹ ښځې وژل شوې او ۸٦۵ نورې ټپیانې شوې، چې د ۲۰۱٦ کال په پرتله پنځه سلنه لوړوالی ښیي. همدا راز په دغه کال کې ۸٦۱ ماشومان وژل شوي او ۲۳۱۸ نور ټپیان شوي، چې د ۲۰۱٦ کال په پرتله د لس سلنه زیاتوالي ښودنه کوي. له بله پلوه، ښکاري چې د افغان او بهرنیو ځواکونو د هوایي بریدونو زیاتوالي او له کبله یې د ملکي وګړو د مرګ‌ژوبلې د کچې لوړېدو، په ټوله کې د ملکي تلفاتو د کچې لږ راټیټېدل هم تر سیوري لاندې راوستي دي.

د یوناما د ارقامو له مخې، دا څلورم پرله‌پسې کال دی چې په افغانستان کې د ملکي وګړو د مرګ‌ژوبلې شمېره په کلني ډول تر ۱۰ زره لوړه ده. له دې هاخوا، په ټولیز ډول افغانان د هرکال په تېرېدو سره په لا ډېرو ناامنیو او وېره کې ژوند تېروي او کال په کال د جګړې د اور لمبې زور اخلي. د یوناما چارواکي هم مني، چې د ملکي وګړو د مرګ‌ژوبلې په تړاو د دوی شمېرې په یوازې سر، په افغانستان کې د جګړې د روان ناورین ښودنه نه شي کولی.

[1] UNAMA, 2017 Annual Report on Civilians Casualties in Afghanistan, 15 Feb 2018, See it online: https://unama.unmissions.org/afghanistan-10000-civilian-casualties-2017-un-report-suicide-attacks-and-ieds-caused-high-number

## د ملکي تلفاتو عاملین

د جګړې د ښکېلو لورو جګړه‌ییزې تګلارې او د سولې له بهیر سره غیرواقعبینانه چلند، په هېواد کې د روانې جګړې د اوږدېدو او په پراخه کچه د ملکي تلفاتو اساسي لامل بلل کېږي. په دې برخه کې د جګړې ټول ښکېل لورې خپل رول لري او په تېره بیا د ملي یووالي حکومت له جوړېدو راوروسته، له ۲۰۱۴ تر ۲۰۱۷ کال پورې د ملکي وګړو د مرګ‌ژوبلې کچه خورا لوړه شوې ده.

د یوناما په راپورونو کې هم هر کال په مشخص ډول د ملکي تلفاتو عوامل ښودل کېږي، چې ډېره برخه یې د دولت ضد عناصرو (عمدتا طالبان) ته منسوبېږي. خو له یوې خوا د یوناما په ارقامو کې د ملکي وګړو هغه تلفات نه راځي، چې دوی یې د ملکي تلفاتو په کټګورۍ کې د داخلولو لپاره کافي شواهد نه لري یا هم هغه پېښې چې دوی ورته لاسرسی نه لري او له بلې خوا د بهرنیو ځواکونو د هوایي بریدونو او بې‌پیلوټه الوتکو د بریدونو له کبله ملکي وګړو ته د اوښتې مرګ‌ژوبلې شمېرې هم له دغو شمېرو سره نه دي یوځای شوې. په ټوله کې د یوناما راپورونه د بهرنیو ځواکونو له‌خوا اوښتې مرګ‌ژوبله ډېره کمه ښیي، کوم څه چې له ځمکنیو حقایقو سره سر نه خوري.

د یوناما د ۲۰۱۷ کال په راپور کې هم د ولسي وګړو د ٦٥ سلنه مرګ ژوبلې مسؤول د دولت ضد عناصر بلل شوي، چې ۴۲ سلنه یې طالبانو، ۱۰ سلنه د «اسلامي دولت» یا داعش ډلې او ۱۳ سلنه نورو دولت ضد عناصرو ته منسوب دي. همدا راز په دغه راپور کې دولت‌پلوي ځواکونه د ۱۹ سلنه ملکي مرګ‌ژوبلې عاملین بلل شوي، چې په دې ډله کې د ١٦ سلنه مسؤول افغان ځواکونه او د یوازې ۲ سلنه ولسي مرګ‌ژوبلې مسؤول بهرني ځواکونه بلل شوي دي.

د بهرنیو ځواکونو له‌خوا د ولسي وګړو د مرګ‌ژوبلې دوه سلنه کچه د تعجب وړ ده؛ ځکه تېر کال د جګړې په ډګر کې د بهرنیو ځواکونو رول او په تېره بیا هوایي بریدونه د تېرو څو کلونو په پرتله زیات وو. خپله د یوناما د راپور له مخې، د دولت‌پلوه ځواکونو په هوایي بریدونو کې ٦۳۱ تنو ته مرګ ژوبله اوښتې ده (۲۹۵ وژل شوي، ۳۳٦ ټپیان). دا کچه د ۲۰۱٦ کال په پرتله د ۷ سلنه زیاتوالي ښودنه کوي او له ۲۰۰۹ کال راوروسته په یوه کال کې د هوایي بریدونو له کبله د ملکي وګړو د مرګ‌ژوبلې تر ټولو لوړه کچه ده، چې په دې کال کې د ټولې مرګ‌ژوبلې ٦ سلنه جوړوي. د ملي یووالي حکومت هم په تېر کال کې پر ملکي وګړو د بهرنیو ځواکونو پر بمباریو چوپتیا غوره کړې وه، کوم څه چې د دغو بریدونو او له کبله یې د ملکي وګړو د مرګ‌ژوبلې د زیاتېدو یو لامل هم بلل کېږي.

## راتلونکی وضعیت

د ملي یووالي حکومت د سولې بهیر په بریا کې په لویه کچه پاتې راغی او له کبله یې د جګړې پر ستراتېژۍ تمرکز وشو. له همدې امله اوس دا اندېښنې پیاوړې دي، چې ۲۰۱۸ کال به د افغانانو لپاره لا ډېر خونړی وي. د ۲۰۱۸ کال له پیل راهیسې د امریکایي ځواکونو هوایي بریدونه هم زیات شوي او په ځانګړې توګه په دغو بریدونو کې له B52 ډوله بمغورځوونکو جنګي الوتکو هم کار اخېستل شوی. په ټولیز ډول، په افغانستان کې د امریکا د جګړې تګلارې دا وضعیت پېچلی کړی دی.

د بحران نړیوالې ډلې په خپل وروستي راپور کې، په افغانستان کې د امریکا پر جګړه‌ییزې تګلارې نیوکه کړې او دا یې په روان (۲۰۱۸) کال کې د امنیتي وضعیت د لا خرابېدو لامل بللې ده. د دغه راپور له مخې، امریکا په ۲۰۰۹-۲۰۱۲ کلونو کې تر ۱۰۰ زره ډېر پوځیان په افغانستان کې لرل؛ خو بیا یې هم له پوځي لارې طالبان مات نه کړای شول. په داسې حال کې چې دا ډله له ۲۰۰۱ کال راوروسته اوس د بل هر وخت په پرتله زیاتې سیمې تر کنټرول لاندې لري او د تېر په پرتله پیاوړې ده.[2]

په افغانستان کې پر جګړې د امریکا د ټینګار له کبله، سیمه‌ییز او نړیوال لوبغاړي، لکه روسیه، چین او ایران په دغه هېواد کې د امریکا پر پوځي حضور شکمن دي او داسې انګېري چې واشنګټن په افغانستان کې ثبات نه غواړي او یوازې په سیمه کې د خپل پوځي حضور د دوام په لټه کې دي. له همدې کبله د دغو هېوادونو ښکېلتیا هم په افغانستان کې ورځ تر بلې په ډېرېدو ده.

د ۲۰۱۸ کال د امنیتي وضعیت په اړه اندېښنې ځکه هم ورځ تر بلې زیاتېږي، چې له طالبانو سره د امریکا او افغان حکومت له‌خوا د سولې خبرې تحریم شوې. له طالبانو سره د سولې د خبرو اترو له تحریم وروسته، دغې ډلې د امریکا له کانګرېس او خلکو څخه په یوه پرانېستي لیک کې غوښتي، چې پر خپل حکومت فشار راوړي، څو په افغانستان کې د جګړې پر ځای د سولې لاره ونیسي. د طالبانو دا لیک درې لاملونه لري:

**لومړی:** طالبان د امریکا او افغان حکومت د جګړه‌ییزې ستراتېژۍ له کبله تر فشار لاندې دي. د دې ترځنګ د دوی په ډېری بریدونو کې ملکي خلکو ته پراخه مرګ‌ژوبله اوړي چې د دوی لپاره یې پایلې خورا منفي دي.

[2] International Crisis Group, 31 Jan 2018, See it online:
https://www.crisisgroup.org/asia/south-asia/afghanistan/dangerous-escalation-afghanistan

**دویم:** طالبانو غوښتل په دې توګه امریکا ونګوي او نړیوالو ته دا پیغام ورسوي، چې امریکا په افغانستان کې د سولې او ثبات اراده نه لري او یوازې د دغې جګړې دوام غواړي.

**دریم:** د طالبانو له دغه لیک څخه څرګندېږي، چې دا ډله له افغان حکومت‌سر ه د سولې د خبرو اترو تګلاره نه لري او د سولې د خبرو اصلي لورى امریکا بولي؛ ځکه دغې ډلې تل افغان حکومت بې‌صلاحیته بللی.

په ټوله کې له دغه لیک څخه ښکاري، چې د امریکا او افغان حکومت د جګړه‌ییزې تګلارې په مقابل کې به جګړې ته دوام ورکړي؛ هغه هم داسې مهال چې امریکا په اوسني وخت کې له دغې ډلې سره د خبرو اترو تګلاره نه لري. ځکه نو د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د طالبانو د دغه لیک په ځواب کې وویل: «طالبان دې لومړی له افغان دولت سره د روغې جوړې خبرېو کړي.»

د افغان حکومت د سولې او جګړې پلې شوې تګلارې ته په کتلو سره ویلای شو، چې اوسمهال له حکومت څخه هم یا لاره ورکه شوې او یا په شعوري توګه روانه تګلاره تعقیبوي، هغه چې نه به سوله راولي او نه هم امنیت. خو بیا هم، که دواړه افغان حکومت او طالبان د زور له لارې او یا هم هر یو له یوه قوي دریځ څخه غواړي چې د سولې پروسې ته دننه شي، نو د سولې دا پروسه به هېڅمهال هم پیل نه شي، چې ښکاره بېلګې یې وروستي څو کلونه دي.

# وضعیت بی‌جاشده‌گان داخلی در افغانستان




بربنیاد گزارش ادارۀ هماهنگی کمک‌های بشری سازمان ملل متحد (OCHA)، از آغاز سال ۲۰۱۸م تا ۱۹ فبروری این سال بیش از ۱۷۰۰۰ تن در داخل افغانستان از خانه‌های شان بی‌جا شده‌اند.[3]

این ارگان سازمان ملل متحد، در گزارش اخیرش ناامنی‌ها و ادامۀ جنگ در کشور را از عوامل اصلی افزایش بی‌جاشده‌گان داخلی در افغانستان خوانده است. علاوه بر جنگ، حوادث طبیعی، وضعیت خراب اقتصادی، بحران فقر و بی‌کاری و نبود سرمایه‌گذاری در بخش‌های زیربنایی، از جمله مواردی دیگری اند که شمار بی‌جاشده‌گان داخلی در کشور را افزایش داده است.

در این تحلیل، بر وضعیت بی‌جاشده‌گان داخلی در افغانستان و راه‌کار حکومت وحدت ملی در رابطه به رسیده‌گی به مشکلات بی‌جاشده‌گان داخلی، پرداخته شده است.

---

[3] See it online:
https://www.humanitarianresponse.info/en/operations/afghanistan/document/afghanistan-weekly-field-report-12-18-february-2018

## آواره‌گان و حقوق بشری آن‌ها

کسیکه مجبور به ترک محل زیست دایمی خویش در اثر جنگ و منازعات مسلحانه، حوادث طبیعی، فقر و غیره د داخل یک کشور می‌گردد، بی‌جاشدۀ داخلی شمرده می‌شود که معمولا امکانات خود را از دست می‌دهند و با مشکلات زیادی چون امرار معاش، سرپناه، تعلیم و تربیه، فرصت‌های شغلی و سایر نیازهای مهم زنده‌گی مواجه می‌شوند.

با درنظرداشت کرامت انسانی و حقوق بشری، دولت‌ها تعهدات و مسؤولیت‌های مشخصی در قبال حقوق بشری بی‌جاشده‌گان داخلی دارند. در سطح بین‌المللی، اصل نخست رهنمود ملل متحد در مورد بی‌جاشده‌گان داخلی تصریح می‌کند: «بی‌جاشده‌گان داخلی باید به طور مساویانه از عین حقوق و آزادی‌های که سایر افراد یک کشور در مطابقت با قوانین ملی و بین‌المللی از آن مستفید می‌گردند، بهره‌مند باشند. ایشان نباید به دلیل بی‌جاشده‌گی داخلی در استفاده از حقوق و آزادی‌های شان مورد تبعیض قرار گیرند.»[4]

اعلامیۀ جهانی حقوق بشر نیز تصریح می‌کند: «هر کس حق دارد که سطح زنده‌گی، سلامتی و رفاه خود و خانواده‌اش را از جهت خوراک، مسکن، مراقبت‌های طبی و خدمات لازم اجتماعی تأمین کند، همچنان حق دارد که در موقع بی‌کاری، بیماری، نقض اعضاء، بیوه‌گی، پیری یا در تمام موارد دیگری که به علل خارج از ارادۀ انسان، وسایل امرار معاش او از بین رفته باشد، از شرایط آبرومندانه زنده‌گی برخوردار شود.»[5]

## بی‌جاشده‌گان داخلی در افغانستان

در دهۀ نود میلادی به دلیل جنگ‌های داخلی در کشور شمار زیاد افغان‌ها دور از میدان جنگ، در شهرها زنده‌گی می‌کردند. پس از ۲۰۰۱م و آغاز حملات نیروهای ناتو و امریکا بر مناطق مختلف افغانستان، رقم بی‌جاشده‌گان داخلی در کشور به ۱,۲ میلیون تن رسید، ولی پس از تامین امنیت در کشور این رقم به ٦٥٠ هزار تن کاهش یافت.

[4] اصول رهنمودی ملل متحد در مورد بی‌جا شدن داخلی، اصل نخست:
http://morr.gov.af/Content/Media/Documents/IDPGP_Dari_Final2172012101414959l458322570.pdf

[5] مادۀ ۲۵، اعلامیۀ جهانی حقوق بشر، سازمان ملل متحد:
http://www.aihrc.org.af/media/files/Laws/Elamia%20ha/Elamiya%20huquqe%20bashar.pdf

از سال ۲۰۰۱ تا ۲۰۰۶م که وضعیت امنیتی کشور در حال بهبود بود، رقم بی‌جاشده‌گان داخلی نیز همه‌ساله کاهش می‌یافت؛ اما پس از سال ۲۰۰۷م که در برخی ولایات ناامنی‌ها روبه افزایش نهاد، رقم بی‌جاشده‌گان داخلی نیز سیر صعودی داشت. در این سال، در تمام افغانستان تقریبا ۱۵۳۷۱۸ تن بی‌جاشدهٔ داخلی وجود داشتند، اما این رقم تا ماه می سال ۲۰۱۵م به ۹۱۶۴۳۵ تن رسید و در سال ۲۰۱۶م شمار بی‌جاشده‌گان داخلی به صورت مجموعی حدود ۱٫۵ تن بود[6]. این رقم در سال ۲۰۱۶ به گسترش فعالیت‌های گروه داعش، سقوط کندز و حوادث طبیعی در ولایات شمال افغانستان بلند رفته بود.

در سال گذشته نیز به دلیل وضعیت خراب امنیتی در کشور، شمار بی‌جاشده‌گان داخلی سیر صعودی داشته است و بربنیاد اظهارات مقام‌های وزارت امور مهاجرین و عودت‌کننده‌گان، تنها در سال ۲۰۱۷ میلادی ۶۰۰ هزار افغان در نتیجهٔ جنگ و ناامنی از خانه‌های‌شان آواره شده‌اند.

در سال جاری میلادی نیز گزارش‌های ارگان‌های بین‌المللی حاکی از ارقام بلند آواره‌گی در کشور است و از آنجاییکه وضعیت امنیتی از آغاز این سال بیش از پیش روبه وخامت نهاده است، به نظر می‌رسد در این سال نیز شمار بی‌جاشده‌گان داخلی افزایش خواهد یافت. در کل، عوامل افزایش بی‌جاشده‌گان داخلی ناامنی‌های روز افزون، درگیری‌های مسلحانه، بی‌کاری و فقر و حوادث طبیعی به شمار می‌رود.

## راه‌کار حکومت در قبال بی‌جاشده‌گان داخلی

دولت افغانستان برای رسیده‌گی به مشکلات بی‌جاشده‌گان داخلی، هرچند برنامه‌هایی نیز روی دست دارد، ولی حقایق زمینی نشانگر وضعیت خراب آواره‌گان داخلی و ناکامی حکومت در رسیده‌گی به مشکلات آن‌هاست.

بر بنیاد "استراتیژی انکشاف ملی افغانستان" چندین ارگان مسؤول رسیده‌گی به وضعیت خراب بی‌جاشده‌گان داخلی اند. در بخشی از این استراتیژی آمده است: «به منظور رسیده‌گی به چالش‌های عودت کننده‌گان و بی‌جاشده‌گان داخلی، دولت باید در جهت ارتقای ظرفیت وزارتخانه‌های ذیدخل در امور عودت، مانند وزارت خارجه، انکشاف شهری، صحت عامه، معارف و غیره توجه کند.»[7]

---

[6] مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی: "په ۲۰۱۷ کال کې د افغان کډوالو وضعیت ته کتنه"، ۲۸ اسد ۱۳۹۶ هـ ش:
http://csrskabul.com/pa/?p=3728

[7] استراتیژی انکشاف ملی افغانستان: "استراتیژی سکتور مهاجرین، عودت کننده‌گان و بیجاشده‌گان":

"پالیسی ملی بی‌جاشده‌گان داخلی" که در ۲۵ نوامبر ۲۰۱۳م توسط شورای وزیران تصویب و در ماه فبروری ۲۰۱۴م رسما به اجراء گذاشته شد، سند دیگری است که در رابطه به رسیده‌گی به نیازمندی‌های بی‌جاشده‌گان، پایان دادن به این معضل از طریق رفع عوامل و زمینه‌های آن، توسط دولت افغانستان تدوین شده است.[8]

سازمان عفو بین‌الملل در گزارش سال ۲۰۱٦ خویش، با ابراز نگرانی از وضعیت خراب بی‌جاشده‌گان داخلی نگاشته بود که تاکنون پالیسی ملی بی‌جاشده‌گان داخلی سال ۲۰۱۴م، به گونۀ درست عملی نشده و آن‌ها با مشکلات گوناگون دست و پنجه نرم می‌کنند.

هرچند حکومت افغانستان و برخی نهادهای داخلی و بین‌المللی گاه‌گاهی با بی‌جاشده‌گان داخلی کمک‌هایی چون مواد غذایی و اسباب اولیۀ زنده‌گی نیز می‌کنند؛ اما این کمک‌ها از یک‌سو اندک به شمار می‌رود و از سوی دیگر در درازمدت با بهبود این قشر جامعه کمک بنیادی محسوب نمی‌شود.

دولت افغانستان و جامعۀ جهانی تاکنون به نیازمندی‌های بنیادی بی‌جاشده‌گان داخلی در افغانستان توجه لازم نکرده است. بیشتر آن‌ها در حال حاضر در سرمای زمستان در خیمه‌ها زنده‌گی می‌کنند و کودکان آن‌ها نه تنها به تعلیم و تربیه دسترسی ندارند، بلکه برای خانواده‌های شان در سر سرک‌ها گدایی می‌کنند.

در کل، این معضل نیز مانند هر عرصۀ دیگر مربوط به تامین صلح و ثبات در کشور است و تا زمانی که جنگ در کشور روز به روز شدت می‌یابد، حکومت افغانستان کاری برای بهبود وضعیت بی‌جاشده‌گان داخلی نخواهد کرد.پایان

---


**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com  csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارۀ تماس دفتر: **784089590 (+93)**

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: **789316120 (+93)** abdulbaqi123@hotmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول بخش پژوهش‌ها و نشرات: **775454048 (+93)** hekmat.zaland@gmail.com


**یادآوری:** لطفا نظرات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.

---

http://morr.gov.af/Content/Media/Documents/DariRefugeeStrategy_final1992011829118381458322570.pdf

[8] وزارت امور مهاجرین و عودت کننده‌گان، "پالیسی ملی بیجاشده‌گان داخلی":
http://morr.gov.af/Content/Media/Documents/NationalIDPPolicy-FINAL-Dari2620148481793655332525.pdf